gaps uk
gender action for peace and security

WOMEN FOR WOMEN INTERNATIONAL

A.W.R.C

# اوس او راتلونکي

## جنسيتي برابري، د کووېډ-۱۹ په نړۍ کې سوله او امنيت

**د افغانستان په اړه لنډ معلومات**

### ۱. معرفت

ښځې د ښځو په خدمت کې نړيوال دفتر (WfWI) او افغان وېمنز ريسورس سنټر (AWRC)، د جنډر ايکشن فار پيس اينډ سيکيورټي (GAPS) په همکارۍ سره، په افغانستان کې د جنسيتي برابرۍ يا ورته والي، سولې او امنيت باندې د کووېډ-۱۹ د اغېزو او د دغې وبا پر وړاندې د غبرګونونو په اړه د څېړنې مسؤليت په غاړه واخيست. دغه څېړنه د نړيوالې ټولنې (حکومتونو، غير دولتي ادارو (INGOs)او څو اړخيزه ادارو) ته دا وړتيا ورکوي ترڅو د موضوع په اهميت او په نړيواله کچه په جنډر، سوله او امنيت باندې د کوېډ-۱۹ اغېزې په سمه توګه درک کړي او داسې اغېزمنې پاليسۍ او برنامې په لاره واچوي چې وکولای شي د کووېډ-۱۹ د اغېزو او راتلونکو نړيوالو وباګانو پر وړاندې ځواب ويونکې وي.

اړه

د څېړنې په مېتودولوجۍ کې يوه رسمي بيا کتنه شامله وه (چې د ۲۰۲۰ له اکتوبر-نوامبر مياشتې کې ترسره شوه) چې د افغانستان په کچه مهمو موضوعاتو لکه بېځايه کېدنې، په تصميم نيونه کې د ښځو او نجونو ګډون، جنسيتي تاوتريخوالي (GBV)، جنسيتي او تکثيري روغتيا، د معيشت او ښځو د اقتصادي حقونو، او همدارنګه د افغانستان په ۱۳ ولايتونو کې د ۲۰ مهمو معلوماتي مرکو ته په کتو او په ګډون، په مختلفو سيمو او مختلفو سېکتورونو کې د کووېډ-۱۹، جنډر، د سولې او امنيت د اغېزو په اړه په لاره واچول شوه.

په افغانستان کې د کووېډ-۱۹ په چټک وضعيت کې د بلقوه بدلونونو د ارزونې لپاره د ۲۰۲۱ کال په فبرورۍ مياشت کې د پينځو ګډونوالو سره يوه بله رسمي بيا کتنه او د کليدي معلوماتي غړو (KIIs) سره ترسره شوه. موندنې د کووېډ-۱۹ له امله د جنسيتي برابرۍ اغېزې ښيي، په ځانګړې ډول په ښاري، کليوالو او د مهاجرينو د ځای پر ځای کولو په هغه سيمو کې په هغو ډلو باندې چې له پامه غورځول شوي دي. دغه موندنې د ښځو او نجونو په مسؤليتونو، د هغوی په اړتياوو، معيشت او جنسيتي تاوتريخوالي (GBV)، او همدارنګه دا چې د ښځو او نجونو مختلفې ډلې د کړکېچ پرمهال څه تېروي، د وبا اغېزې په ګوته کوي. همدارنګه دغه موندنې په افغانستان کې په سوله او امنيت باندې د کووېډ-۱۹ ژورې اغېزې بيانوي، هغه څه چې په افغانستان کې اوږده او دوامداره مخينه لري.

### ۲. په کووېډ-۱۹ کې د سولې، امنيت،او جنسيتي برابرۍ په وضعيت کې بدلونونه

د اعداد بايد په پښتو بڼه وليکل شي لکه ۲۰۲۰ کال په نوامبر مياشت کې افغانستان د کووېډ-۱۹ وبا دوهمه څپه تجربه کړه.
په وروستيو مياشتو کې چې په مکرر ډول د کووېډ-۱۹ مثبت پېښې کمې وې، ورستنۍ ډېټا د پېښو زياتوالی څرګندوي. د روغتيا نړيوال سازمان (WHO) - افغانستان اوس هم د وايروس د وراثت بدلون په اړه اندېښنه لري. دغه سازمان د جينوميک لړۍ لپاره د کويد-۱۹ نمونې لېږلې دي ترڅو  مالومه کړي چې آيا دمګړۍ په افغانستان کې د وايروس نوي ډولونه شتون لري که نه. د روغتيا نړيوال سازمان پدې برخه کې شک لري او ټينګار کوي چې نظارت يا څارنې ته بايد دوام ورکړل شي. له هغې وروسته، داسې بريښېچې د عفونت کچه ټيټه شوې وي. د کووېډ-۱۹ بياځلي اغېزې دا ډول نه وې.

**د ښځو معاش او اقتصادي حقونه:** د څېړنې ګډونوالو د راتلونکې لپاره د ناوړه اقتصادي حالت په اړه خبر ورکړی. په ټوله کې، د کارموندنې کچه ټيټه شوې ده. په افغانستان کې هرڅه پر ځای ولاړ برېښي. هغو ښځو چې د وبا له امله يې خپلې دندې له لاسه ورکړې دي، بيا نه دي په دنده شوې.

**(داخلي) امنیت:** امنیتي حالت نور هم بد شوی دی. په هدفي وژنو، مدني فعالانو باندې بریدونو او د رسنیو د استازو په وژلو کې ډېروالی راغلی. دا چاره خپله ستونزې زېږوي خو دا پدې مانا هم ده چې د مدني ټولنې ډلې او شبکې پدې برخه کې څه نه شي کولای. داسې ښکاري چې پدې برخه کې د بېکارۍ د لوړې کچې او اقتصادي بحران له امله نور هم ډېروالی رامنځ ته شوی. سربېره پردې، د نړیوالې ټولنې ادارو او د ښځو د حقونو ادارو (WROs) په ګډه سره کار کړی ترڅو د عامه پوهاوي په ګډون د کووېډ-۱۹ سره اړوند برنامې (د پوهاوي د زیاتولو په شمول) برنامې په لاره واچوي.

**د ښځو او نجونو پروړاندې تاوتریخوالی (VAWG):** د ښځو او نجونو پروړاندې د تاوتریخوالي VAWG موارد لاهم په ډېرېدو دي. د څېړنې د ګډونوالو لخوا راپور ورکړل شوی چې دا په جزوي توګه د کورنیو ستونزو او لانجو لامل دی چې په اقتصادي چارو کې د بې ثباتۍ له امله لا زیات شوی.

**روغتیاپالنه:** پداسې حال کې چې د خدماتو د عرضې او لاسرسي په برخه کې د هېوادونو په کچه هغه شته ستونزې چې په راپور کې یې ذکر شوی دی، لا هم په خپل ځای دي، دمګړۍ یوه بله ستونزه رامنځ ته شوې چې د کووېډ-۱۹ واکسین پیل دی. د واکسین د وېش لړۍ دمګړۍ بې عدالتۍ نورې هم ډېرې کړې دي. د څېړنې ګډونوالو زیاته کړه چې په افغانستان کې د واکسینو طبیق د دې پرځای چې د مبارزې د لومړۍ کرښې په روغتیاپالانو لکه نرسانو او ډاکټرانو باندې پیل شوی وی، په لوړپوړو حکومتي چارواکو پیل شوی.

## ۳. د موندنو لنډیز

**په ټوله کې د جنډر په برخه کې لاسته راوړنې:** ګډونوالو څرګنده کړه چې دغې وبا د ټولنې مختلف قشرونه په مختلفو ډولونو اغېزمن کړي دي، خو ډېری له پامه غورځول شوې ښځې او نجونې دي چې په غیر متناسب ډول اغېزمنې شوې دي - په دغو اغېزو کې د ټیټې کچې عایدات یا عاید نه لرونکې ښځې، هغه ښځې او نجونې چې په معلولیت کې ژوند کوي، هغه ښځې او نجونې چې په کلیو کې ژوند کوي او بلاخره هغه ښځې او نجونې شاملېږي چې په مهاجرت کې شپې او ورځې سبا کوي. ګډونوالو څرګنده کړه چې د کووېډ-۱۹ او د دغه وایروس اړونده د مخنیوي اقداماتو په اړه معلومات لا د مخه د راډیوګانو، تلویزیونو، ټولنیزو رسنیو او موبایل ټیلیفون له لارې خلکو ته ابلاغ شوي دي - خو په افغانستان کې د ټولنې تر ټولو ډېر هېر شوي قشرونه او کلیوال خلک بیا دارتباطاتو دغو وسائلو ته د لګښتونه، نامناسب موقعیت او دودونو له امله په سختۍ سره کولای شي چې ورته لاسرسی پیدا کړي. ښځې او نجونې ډېری وخت د ناوړه دودونو له امله معلوماتو ته د لاسرسي په برخه کې د ځانګړو خنډونو سره مخ وي. نو، کېدای شي دا پدې مانا وي چې هغوی د ځان ساتلو په برخه کې د معلوماتو د کمبود له امله د ګواښ او د کووېډ-۱۹ وایروس د انتقال د ګواښ سره مخ دي.

**د ښځو معیشت او اقتصادي حقوق:** په افغانستان کې د کووېډ-۱۹ له امله کورنۍ د جدي مالي ستونزو سره مخ شوې دي، دا ځکه چې قرنطیني شرائطو او په غیر منظم ډول د پولو بندېدل د دې لامل شوي ترڅو د لومړنیو توکو (په ځانګړي ډول د خوراکي توکو) بیې لوړې شي. د دغو زیان منونکو موارودو له ډلې د ځینو هغو لامل دا دی چې په افغانستان کې د هرو پینځو کارکوونکو له ډلې څلور هغه یې په غیر رسمي کارونو باندې بوخت دي - لکه د ټکسي ډریوران، هټۍ وال او کورني کارکوونکي. یادو کسانو تر نورو ډېر زیان لیدلی او دمګړۍ د یوه باثباته معاش ورتیا نه لري. د ګرځبندیز پرمهال د ښوونځیو او کارځایونو په بندېدو سره، په افغانستان کې ډېرې ښځې اړ شوې چې د عوایدو له هغه محدودو فرصتونو څخه محروم شي چې له کاري حقوقو پرته د هغوی په واک کې ول. سربېره پردې، په داسې یوه نرسالاره ټولنه کې چې لا د وړاندې د ښځو او نجونو د حرکت د آزادۍ پر وړاندې د خنډونو شاهدان یو، د کووېډ-۱۹ په جریان کې د کارموندنې په برخه کې د ښځو وړتیاوې کمې شوې دي، چې د هغوی اقتصادي او ټولنیزه په ځان بسیاینه یې په جدي توګه زیانمنه کړې ده.

**ګډون او تصمیم نیونه:** له څېړنې څخه ترلاسه شوي ثبوتونه دا ښیي چې، کامه باید لیرې شي د هغو حقیقتونو سره سره چې په حقیقي ډول د ښځو او نجونو ګډون به وکولای شي وبا ته د نورو منطقي لارو چارو په پیدا کولو کې مرسته وکړي، هغوی بیا هم په نړیواله، ملي او سیمه ییزه کچه په رسمي ډول له حکومتولۍ او تصمیم نیونې څخه ایستل شوې دي. ښځې او نجونې د هغو ناوړه دودونو له امله چې هغوی په تصمیم نیونه کې له ګډون او لاسرسي څخه راګرځوي، د پرمختګ او عمومي ژوند په برخه کې له بندیزونو سره مخ دي. همدارنګه ویل کېږي چې د کورنۍ غړي د کووېډ-۱۹ بحران په بهانه ښځې له بیرون وتو څخه راګرځوي - دا چاره ښایي د دې لامل شي ترڅو ښځې او نجونې په عامه محلونو کې د اوسېدو په اړه نوې سپارښتنې ترلاسه نه کړي، په اوږدمهاله کې خونديي کارځایونو، آزادۍ او حقونو ته د هغوی لاسرسی محدود شي.

**روغتیا پالنه او جنسیتي تاوتریوخوالی (GBV):** حتی د کورونا خپرېدو نه مخکې هم په افغانستان کې د روغتیا پالنې خدمات خورا ټکني ول. دغې برخې ته د روغتیایي بنسټونو او بشري منابعو د نه شتون له امله د پام وړ زیان رسېدلی. ښځې او نجونې خپلې ځانګړې او د روغتیاساتنې، د وبا د خپرېدنې په برخه کې خاصې اړتیاوې لري، او د تاریخ په اوږدو کې په ځانګړي ډول په کلیو کې او د مهاجرت پرمهال هغوی نه دي توانېدلي چې د اړتیا وړ خدماتو ته لاسرسی پیدا کړي. دغه چاره د کووېډ-۱۹ او پدې برخه کې له خپراوي څخه د مخنیوي په موخه په لاره اچول شویو تدابیرو او محدودیتونو نوره هم پېچلې کړې ده، پدې مانا چې ښځې نه شي کولای له کوره د باندې ووزي ترڅو طبي او د روغتیا ساتنې خدماتو د ترلاسه کولو لپاره د پام وړ واټن طی کړي. سربېره پردې، په پراخه کچه تثبیت شوې ده چې بحرانونه کولای شي موجوده او اوږدمهاله جنسیتي نابرابرۍ او بلاخره د جنسیتي تاوتریخوالی (GBV) کچه نوره هم لوړه کړي. کووېډ-۱۹ هم له دغه امر څخه مستثنا نه ده. ډېری کورنۍ اجازه نه ورکوي چې د هغوی ښځینه د کورنۍ غړي نارینه ډاکټرانو ته (چې

ډېرى هغه يې روغتيا پالان دي)  مراجعه وکړي، چې دا چاره دې ته لاره هواروي ترڅو ښځې د کووېډ-۱۹ آزمويني او معالجوي مراکزو ته لږ لاسرسى ولري. سربېره پردې، ثبوتونه ښيي چې په افغانستان کې جنسيتي تاوتريخوالی (GBV) مخ په ډېرېدو دی، دا ځکه چې وبا کولای شي د موجوده اقتصادي او ټولنيزو فشارونو لاملونه د ګرزځبنديز په صورت کې نور هم شديد کړي. دغه لاملونه د اړتيا وړ هغو حياتي خدماتو ته د لاسرسي له کمبود سره  تړلي دي، چې کولای شي د اړونده تاوتريخوالي د زياتېدو لپاره ځواب ويونکي وي.

**د ښځو د حقونو بنسټونو، شبکو او  غورځنګونو لپاره بودجه:** د کووېډ-۱۹ پروړاندې د مبارزې په برخه کې WROs په لومړيتوبونو کې دي. مدني ټولنه او د ښځو د حقونو شبکې لاهم فعالې دي او دهمکاريو د  همغږۍ کولو او خپلو انتخابي حوزو ته د رسېدو لپاره يې بديلې لارې پيدا کړې دي. که څه هم، دغه بنسټونه د ملاتړ او بوديجې له لارې د دغه اساسي کار لپاره په رسمي ډول نه دي پېژندل شوي. ګډونوالو په ځېرنه کې د WROs، شبکو او ډلو لپاره د بودجې کمېدو ته اشاره کړې ده او ويلي يې دي چې د افغانستان حکومت او نړيواله ټولنه بايد هغه سيمه ييزه بنسټونه وپېژني چې مخکې يې له سولې څخه د ملاتړ په برخه کې اغېزمن رول لوبولی.

**شخړې او بې ځايه کېدنه:** ډېرى پوښتل شويو کسانو په ځانګړي ډول د شخړو لسيزو، د خوړو او اقتصاد په برخه کې بې انډوليو ته د يوه داسې اساسي لامل په حيث اشاره وکړه چې بايد په پلان جوړونه او د کووېډ-۱۹ سره د مبارزې اوبيا سمون په برخه کې په پام کې ونيول شي. دغو ستونزو په ښځو او نجونو باندې ځانګړې اغېزه کړې ده، په شمول د  هغو ښځو او نجونو چې له بېلا بېلې ډلې څخه دي، چې په پايله کې يې نوره له پامه غورځېدنه او له برنامو او د خدماتو څخه محرومېدنه رامنځ ته کېږي. دغه وبا د دې لامل شوې ده ترڅو اقتصادي، روغتيايي او بشري ناورين رامنځ ته کړي - او همدارنګه په حکومت د بې باورۍ کچه لوړه کړي - چې په پايله کې يې د جرم او تاوتريخوالي کچه لوړه شوې. سربېره پردې، هغه  دوامداره او اوږدمهاله هڅې چې په افغانستان کې د يوې معقولې سولې لپاره اړينې دي اود کووېډ-۱۹ د مخنيوي د تدابيرو له امله ځنډول شوې دي. له هغه ځايه چې د سولې خبرې او فعاليتونه بيا پيل شوې، ډېرى هغه يې واقعي وو، پدې معنى چې ډېرى ميرمنې او نجونې د  شکېلتيا او ګډون له فرصت څخه بې برخې وې.

**حساب ورکونه:** د کووېډ-۱۹ پر وړاندې مبارزه ډېرو پيسو ته اړتيا لري ترڅو د مختلفو کچو داسې برنامې طرحه کړي چې له مخې يې خلک، ټولنې او هېواد وکولای شي د وبا پر وړاندې مبارزه وکړي. له هغه راهيسې چې د کووېډ-۱۹ له امله په  جنډر يا جنسيتي برابرۍ د اغېز موضوع مطرح شوې ده-او پدې برخه کې په خونډي ډول د باکيفيته خدماتو وړاندې کولو په برخه کې پانګونه شوې ده- چې پدې برخه کې د حساب ورکونې او روڼتيا په ځانګړي ډول د عرضه شوې بهرني مالي ملاتړ په اړه اندېښنې شتون لري. د پايتخت او ولايتونو په کچه د روغتيايي کېتونو، د خوړو د توضېع او د روغتونونو لپاره د طبي تجهيزاتو په ګډون، د کووېډ-۱۹ اړونده ګڼ شمېر پروژې او برنامې طرحه شوې دي. په هر حال، د حساب ورکونې تضمين لپاره د مناسبې څارنې شتون نه درلود.

## ٤. سپارښتنې

**١ سپارښتنه: جامع جنسيتي کړنلاره:** د کووېډ-۱۹ له امله جنسيتي اغېزې قبول کړئ او ژمنه وکړئ چې د جنسيت په اړه حساسه تګلاره غوره کړئ. (د دغو سپارښتنو لپاره بشپړ ثبوتونه کولای شئ د هغو راپور په ۴-۵ پاڼو کې پيدا کړئ چې د  هېواد په کچه چمتو شوی دی.)

**٢ سپارښتنه: د ښځو معيشت او اقتصادي حقونه:**  کووېډ-۱۹ د يوه اقتصادي کړکېچ په حيث وپېژنئ، او همدارنګه هغه ته د روغتيايي او بشري ناورين په سترګه وګورئ. دغه کار  له وبا مخکې ښځو سره د عايداتي منابعو لکه کارموندنې، ځان  په کار کونې او د کليوالو د سپما او قرضې د اتحاديو (VSLAs) په ګډون په هغو اقتصادي مودلونو او ميکانيزمونو کې د پانګونې له لارې ترسره کړئ چې د تر ټولو ټولنو ته ورکړئ او له پامه غورځول شويو  قشرونو څخه ملاتړ کوي. د دغې سپارښتنې لپاره بشپړ ثبوت کولای شئ د هغه راپور په ۵-۶ پاڼو کې پيدا کړئ چې د هېواد په کچه چمتو شوی دی.)

**٣ سپارښتنه: ګډون او تصميم نيونه:**  د  ګډون او تصميم نيونې په برخه کې د ښځو د ورتياو لوړول، په رسمي فعاليتونو او د کووېډ۱۹- پر وړاندې د مبارزې په برخه کې په نړيواله، ملي او  سېمه ايزه کچه د پېغلو نجونو او WROs شمېر لوړ کړئ. دا کار بايد د ښځو لخوا د مشرتابه پياوړي کولو او د ښځو او انجونو اړتياوو او لومړيتوبونو د ساتنې په برخه کې د اوږدمهاله ژمنو سره مل وي. (د دغې سپارښتنې لپاره بشپړ ثبوت کولای شئ د هغه راپور په ۶-۷ پاڼو کې پيدا کړئ چې د هېواد په کچه چمتو شوی دی.)

**٤ سپارښتنه: روغتياساتنه او جنسيتي تاوتريخوالی:** سره له دې چې د روغتيا پالنې په برخه کې محدودې منابع د کورونا وبا له امله په نورو ځايونو کې لګول کېږي خو بيا همکوټلې ګامونه بايد پورته شي ترڅو د ښځو او نجونو لپاره د لاسرسي او پالنې د ترلاسه کولو په برخه کې څنډ حداقل ته راټيټ شي. په دغو مواردو کې خونډي روغتياپالنه، اغېزمنه او بشپړه جنسيتي روغتيا، توليدي او رواني روغتياپالنه، او همدارنګه د کووېډ-۱۹ په جريان کې او له هغې وروسته په اساسي ډول  د GBV خدمات شامل دي. همدارنګه پدې کې د صدمو لپاره خدمتونو په ګډون چې د کووېډ-۱۹ سره د مبارزې د يوې برخې په حيث ځانګړي شوي دي، بېځايه شويو ښځو او نجونو ته د ځانګړې پاملرنې ترځنګ د رواني ستونزو او رواني ملاتړ په برخه کې ډاډمنېدل هم شامل دي. د دغې سپارښتنې لپاره بشپړ ثبوت کولای شئ د هغه راپور په ۸-۹ پاڼو کې پيدا کړئ چې د هېواد په کچه چمتو شوی دی.)

**۵ سپارښتنه: د ښځو د حقونو د ملاتړ بنسټونو (WROs)، شبکو او غورځنګونو لپاره بودیجه:** د WROs، شبکو او غورځنګونو لپاره بودیجه باید د هغه حقیقت په منلو سره په لومړیتوبونو کې ونیول شي چې هغوی کولای شي تر بل هر چا په سمه توګه ځانګړیو اړتیاوو، حقیقتونو او هغو ننګونو ته ځواب ووایي چې هغوی په خپل ژوند کې ورسره مخ دي - چې پدې کې د کوویډ-۱۹ پر وړاندې مبارزه هم شاملېږي. دا باید د هغو پراخو ژمنو یوه برخه وي چې د جنسي برابرۍ، سولې او امنیت، او اساسي اړتیاوو د چمتو کولو، د WROs، شبکو او خوځښتونو لپاره د متغیرې او اوږدمهاله بودیجې د چمتو کولو لپاره د بودیجې د کمولو په برخه کې شوې دي. (د دغې سپارښتنې لپاره بشپړ ثبوت کولای شئ د هغه راپور په ۱۰-۹ پاڼو کې وګورئ چې د هبواد په کچه چمتو شوی دی.)

**٦ سپارښتنه: شخړه او بېځایه کېدل:** په افغانستان کې د کوویډ-۱۹ په وړاندې د خلکو غبرګون او د هغې درملنه باید په څرګند ډول د هغو ښځو او نجونو اړتیاوې او تجربې په نښه کړي چې د جګړو، مهاجرت او بېځایه کېدنې له امله زیانمنې شوې دي. د دې ترڅنګ باید دوامداره هڅې ترسره شي ترڅو د هر ډول تاوتریخوالي او وسله وال شخړې مخنیوی وشي او په افغانستان کې یوې پراخې سولې ته ورسېږو. (د دغې سپارښتنې لپاره بشپړ ثبوت کولای شئ د هغه راپور په ۱۱-۱۰ پاڼو پیدا کړئ چې د هبواد په کچه چمتو شوی دی.)

**۷ سپارښتنه: حساب ورکونه:** د حکومت او نړیوالو مرستو له آدرسه د بیړنیو حالاتو پرمهال د نظریاتو له برنامو، باید په اغېزمنه توګه ځارنه وشي ترڅو د حساب ورکونې او روڼتیا په اړه ډاډ ترلاسه شي. (د دغې سپارښتنې لپاره بشپړ ثبوت کولای شئ د هغه راپور په ۱۲-۱۱ پاڼو کې پیدا کړئ چې د هبواد په کچه چمتو شوی دی.)

## ۵. شریکان

**افغان ویمنز ریسورس سنټر** (AWRC) د ښځو لخوا د اداره کېدونکي بنسټ په توګه د ۱۹۸۹ کال په اګست میاشت کې رامنځ ته شو. دغه بنسټ د ۲۰۰۲ کال په جولای میاشت کې په افغانسان کې کار پیل کړ. دمګړۍ د افغانستان په اووه ولایتونو کې فعالیت لري چې عبارت دي له: کابل، پروان، کاپیسا، لغمان، کنړ، ننګرهار او اروزګان څخه. AWRC پدې برخه کې د ۳۱ کلنې تجربې له مخې، د ټولنو، په ځانګړې ډول د ښځو جدي اړتیاوې پوره کوي، او له هغې څخه ملاتړ کوي ترڅو پدې برخه کې ځواکمنې شي همدا راز د هغوی په ټولنو او قومونو کې د مثبت بدلون لپاره هغوی په فعالو استازو بدل شي، او دا چې وکولای شي د جنسي برابرۍ غوره حکومتولۍ او دیموکراسۍ په اړه د ځارنې په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي. AWRC د ټولنې په ټولو برخو کې د ښځو په فعال ګډون باندې کلک باور لري. AWRC د خپل تاسیس راهیسې د لاندینو مواردو په چمتو کولو سره د زرګونو افغان مېرمنو او نارینه و سره ګډ کار کړی: د کرنې په برخه کې روزنه او فعالیتونه، د مسلکي مهارتونو او صفر امتیاز لرونکو کوچنیو اعتبار لرونکو برنامو د چمتو کولو له لارې د معیشت فرصتونه، تعلیمي فعالیتونه، د وقایوي روغتیا اروونده زده کړه، د ورتیا جوړونې مسلکي برنامې، د افغان مېرمنو د وضعیت په برخه کې د هغوی وکالت کول، د منلو، د خپلو افغان سیالانو د منلو رول او ونډې پر وړاندې د عامو خلکو حساسیت.

**د سولې او امنیت لپاره د جنسیتي اقدام سازمان** (GAPS)، د بریتانوي مېرمنو د سولې او امنیت (WPS) په برخه کې د مدني ټولنې یوه شبکه ده. دغه اداره د ډیپلوماسۍ، بشري حقونو، بشري مرستو او سولې راوستنې په برخه کې د غیر دولتي سازمانونو (NGOs) څخه جوړ یو سهامي بنسټ دی. دغه بنسټ د WPS د ارتقا، لکه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پرېکړه لیک (UNSCR) په موخه رامنځ ته شو. GAPS د انګلستان حکومت هڅوي ترڅو په جګړه ځپلو سیمو کې د ښځو او نجونو په برخه کې د نړیوالو ژمنو په اړه حساب وغواړي.

**ښځې د ښځو په خدمت کې نړیوال دفتر** (WfWI) له هغو ښځو څخه په انفرادي ډول ملاتړ کوي چې د مهارتونو، داسې علومو او منابعو چې کار او سپما رامنځ ته کوي، د هغوی د حقونو، د کورنیو د روغتیا، او له شبکو څخه د ملاتړ په برخه کې د هغو ښځو سره مرسته کوي چې په په واقعي توګه په غربت او تاوتریخوالي کې شپې ورځې تېروي. موږ همدارنګه د نارینه مشرانو او د ټولنې د غړیو سره د همکارۍ، د رهبرۍ یا مشرتابه په برخه کې د ښځو د ونډې د زیاتوالي او له ټولنې څخه د ملاتړ او په نړیواله او ملي کچه د تصمیم نیونې په برخه کې د پامه غورځول شویو ښځو د غږ د رسونې له لارې، د یوې داسې موکې په رامنځ ته کولو کې ونډه لرو چې په هغې کې له ښځو څخه لا ډېر ملاتړ کېږي. د ۱۹۹۳ کال راهیسې، ښځې د ښځو په خدمت کې نړیوالې ادارې په ګڼ شمېر جګړه ځپلیو هېوادونو لکه افغانستان، بوسنیا، او آذربایجان، د کانګو د خلق په جمهوریت، عراق، کوسوو، نایجیریا، رواندا او سوئیلي سوډان کې له ۵۰۰۰۰۰ څخه د زیاتو مهاجرو ښځو ستونزو ته رسیدګي کړې ده.

دا یو آزاد او بې پرې راپور دی چې د بهرنیانو، عامه شتمنیو او پراختیا اداري په مالي مرسته چمتو شوی. د دغو موادو لګښتونه د بریتانیا حکومت د یوک اېډ (UK aid) لخوا تمویل شوی، که څه هم، وړاندې شوي نظریات د انګلستان د حکومت د رسمي تګلارو ښکارندویي نه کوي.

This report is funded by: